SHARIAT WEEKLY

شريعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

څلورم کال دوره د برشنه ګڼه پرله پسې (۲۲۲) یکشنبه د ۱٤۲۰ هـ ق کال محرم الحرام (۲۳) د ۱۳۷۸ هـ ش کال د غوایي د میاشتي (۱۹) د ۱۹۹۹ میلادي کال د مي (۱۰)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !،
هغه (عدل) ډیر نږدي دی
تقوا (پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د لوي خداي "ج" په مرستي سره :

د بنګي او سالنګ په استقامت د ملیشو تعرضونه له رسوا ماتي سره مخ شول

د بنګي له استقامت څخه د بدنامو ملیشو یو تعرض له ماتي سره مخامخ شو چي د هغه په بهیر کي د دښمن یو شمیر قوماندانان او افراد ووژل شول او یو شمیر نور یې د اسلامي اردو د مجاهدینو لخوا اسیر شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د بدنامو ملیشو ددغه ناکام برید په بهیر کي چي تیره شپه د بنګي له استقامت نه د اسلامي اردو د مجاهدینو په ځایونو او سنګرونو وشول نه بوازي دا چي له غوڅي ماتي سره مخامخ شول. د قوماندان خیر محمد د ملیشو او د بدنامو ملیشو د دووتنو نورو قوماندانانو په ګډون د دښمن اوه تنه افراد ووژل شول او هم د دښمن یو شمیر افراد د اسلامي اردو د مجاهدینو لخوا اسیر شویدي.

د یو بل خبر له مخي ماتي خوړلي دښمن پرون د اندراب او شمالي سالنګ له استقامتونو څخه د خنجان په ولسوالي کي د مجاهدینو په سنګرونو او استحکاماتو هم تعرض وکړ چي لله الحمد د اسلامي اردو د زړه ورتوب او میړانې له امله د دښمن دغه تعرض هم له ماتي سره مخامخ شو .

ددغه ناکام تعرض په بهیر کي د ملیشو پنځه تنه افراد ووژل شول او دري تنه نور ص ٤

د فاریاب په ولایت کي د زید ابن حارث «رض» دارلحفاظ پرانستل شو

د پوهني وزارت محترم سرپرست پرون د یوې غونډې په ترڅ کي د فاریاب ولایت د زید ابن حارث «رض» دارالحفاظ پرانیست.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ ددغه دارالحفاظ د پرانستلو په مراسمو کي چي وروسته له هغه چي د کلام الله مجید څو ایتونه واوريدل شول . د پوهني وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي سید غیاث الدین آغا د فاریاب ولایت والي محترم ملا سید جانان آغا او ددغه ولایت مرستیال محترم حاجي ملا دین محمد د هراد د بچیانو د سالمي روزني په خاطر د دیني مدرسو د جوړولو لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د یو پاملرنو په اړوند خبري وکړي . او د هراد ٤ مخ

در سراسر کشور:

بیش از ٤ ملیون طفل کمتر از پنج سال طي سه روز جاري واکسین میشوند

در این کمپاین واکسین پولیو، و ویتامین اي شامل میباشد

با تطبیق کمپاین ملي واکسیناسیون بیش از چار ملیون طفل کمتر از پنج سال طي دو روز آینده در سراسر کشور واکسین پولیو مي گردد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در کمپاین ملي واکسیناسیون که غرض از بین بردن و محو کامل مرض پولیو یا فلج در سراسر کشور به همکاري وزارت صحت عامه و کمک مالي و تخنیکي اداره یونیسف و سازمان صحي جهان سر از فردا راه اندازي میگردد در نظر است بیش از چار ملیون طفل کمتر از پنج سال طي سه روز آینده در سراسر کشور واکسین میگردد.

در راه پیشبرد تبلیغاتي کمپاین ملي واکسیناسیون که صبح دیروز از چمن حضوري آغاز و در تمام نواحي شهر کابل بخاطر آگاهي هر چه بیشتر هموطنان ما از آغاز کمپاین واکسیناسیون راه اندازي گردیده بود یکمقدار اوراق تبلیغاتي غرض آگاهي بیشتر هموطنان ما در ساحات مختلف شهر کابل توضیح گردید.

در این کمپاین بیش از چار هزار و نود نفر که شامل واکسیناتوران مبلغین، سوپروایزران و رضا کاران شامل میباشند که کار آن سر از فردا دوشنبه ۲۳ محرم الحرام مطابق ۱۹ ثور ۱۳۷۸ در سراسر کشور آغاز و به مدت سه روز ادامه میباید و دور دوم آن از تاریخ ۲۹ صفر المظفر الي ۲ ربیع الاول مطابق ۲۳ جوزا الي ۲۵ جوزا سال ۱۳۷۸ آغاز میگردد.

در این کمپاین بر علاوه واکسین پولیو یا فلج اطفال ویتامین اي نیز براي اطفال کمتر از پنج سال تطبیق میگردد .

از والدین محترم تقاضا بعمل ص ٤

فارمهاي زراعتي ولسوالي هاي دهدادي، دولت آباد بلخ، شولګره وباغ قول مورد بهره برداري قرار گرفت

با به پیروزي رسیدن نیرو هاي اردوي اسلامي در صفحات شمال کشور فارمهاي زراعتي ولسوالیهاي دهدادي، دولت آباد، بلخ، شولگره و باغ قولن که بیشتر از یکهزار و پنجصد جریب زمین را احتوا مینماید از تصرف شخصي قوماندانان و افراد ملیشه هاي دوستمي خارج و دو باره مورد بهره برداري قرار گرفت.

مطلب فوق را یکي از مسؤولین ریاست زراعت ولایت بلخ در مصاحبه با خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر اظهار داشته افزود با رویکار آمدن گروه هاي خلق و پرچم تهاجمات قواي روسي و سلطه قواي ملیشه دوستمي اشجار مثمر فارمهاي زراعتي ولسوالیهاي دهدادي، دولت اباد، بلخ، شولگره و باغ ص ٤

د ننګرهار د کرهني ریاست کفیل محترم مولوي عبدالوهاب له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي :

په ننګرهار کي ۲۸۰۰۰۰ حیواناتو ته واکسین ۲۵۰۰۰۰ تداوي او ۳۰۰۰ غواګانې مصنوعي القاح شویدي

تیر کال د ننګرهار د کرهني ریاست یو سلو پنځه ملیونه افغاني نقد، دولس زره منه غنم، زرمنه جوار او په همدې مقیاس نور عواید درلودل

په ننګرهار کي د کرهني ور دوه لکه هکتاره ځمکه شته ده

محترمو لوستونکو د شریعت اوونیزي خبریال د ننګرهار ولایت د کرهني د ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو په هکله ددي ریاست له کفیل محترم مولوي عبدالوهاب سره مرکه کړیده چي لوستل یې له ګټي خالي نه دي .

پوښتنه : تر هر څه د مخه د شریعت اوونیزي لوستونکو ته ځان معرفي کړي ؟

ځواب : زما نوم مولوي عبدالوهاب دي د ننګرهار د ولایت د ځمکو د اصلاحاتو عمومي مدیر او د کرهني د ریاست کفیل یم .

پوښتنه : په مرکز کي د ولایاتو د کرهنو د ریاستو د رئیسانو او یا استازو په ګډون له دي سیمینار څخه هدف څه شي دی؟

ځواب : د کرهني د وزارت ددغه اوه ورځني سیمینار هدف دا دي چي د افغانستان د ټولو ولایاتو د ۲ مخ

د لغمان ولایت د پوهني د ریاست عامه کتابتون پرانستل شو

د لغمان ولایت د پوهني د ریاست کتابتون د بیلا بیلو سلګونو کتابونو په لرلو سره پرون پرانستل شو او د کتاب د مینه والو په مخ خلاص شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د غه کتابتون د طالب العلمانو او نورو هیوادوالو د پوهني د سطحي د لوړولو په منظور په دي وروستیو وختو کي د لغمان ولایت د پوهني ریاست لخوا د امام ابو حنیفه په مدرسه کي جوړ او پرون د یو لړ مراسمو په ترڅ کي چي د ننګرهار او لغمان ولایتونو ٤ مخ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د محترم سرپرست تر مشري لاندي :

د سیاسي خیرونو او تبلیغاتو د انسجام مرکزي غونډه جوړه شوه

سیاسي خیرونو او تبلیغاتو د انسجام مرکزي کمیسیون د اطلاعاتو او کلتور وزارت د سرپرست محترم ملا امیر خان متقي په مشري پرون له غرمي مخکي د سرپرستي شورا په مطبوعاتي دفتر کي غونډه وکړه .

د شریعت اوونیزي خبریال خبر ورکړ د غونډې په پیل کي د سرپرستي شورا د مطبوعاتي دفتر رئیس محترم مولوي عبدالسلام مسلم په سیاسي، پوځي او اقتصادي، برخو کي د تبلیغاتو د مثبتو اغیزو په باب خبري وکړي وریسي د ٤ مخ

توزیع مساعدت جمعیت افغاني سره میاشت هرات به نیازمندان آن ولایت

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت هرات خبر میدهد که نمایندگي جمعیت عالي افغاني سره میاشت در ولایت هرات طي ده روز گذشته به ارزش سي و سه ملیون هفتصد و هفتاد هزار افغاني مواد خوراکه را براي تعدادي از خانواده هاي نیازمند آن ولایت توزیع نموده است .

این مواد شامل آرد، برنج، روغن، نخود و بسکیت بوده کـه طي ده روز گذشته از طرف نماینده گي جمعیت افغاني سره میاشت در ولایت هرات براي تعدادي از فامیل هاي بي بضاعت و خانواده هاي شهداء، معیوبین و مهاجرین توزیع نموده است.

د فرهنګي چارو د لا ښه انسجام لپاره د بلخ ولایت د اطلاعاتو او کلتور په ریاست کي غونډه وشوه

د بلخ په ولایت کي د فرهنګي چارو د انسجام او لا زیاتي پراختیا په خاطر پرون ددغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور په ریاست کي یوه غونډه جوړه شوه .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ ددغي غونډې په ترڅ کي چي ددغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور د رئیس محترم ملا فیض احمد فیض په مشري جوړه شوي وه ددغه ریاست د ۱٤۲۰ هجري قمري کال د کاري پلان په باب د خبرو په ترڅ کي ددغه ولایت د فرهنګي چارو د پرمختیا او انسجام په باب خبري اتري وشوي اړه دي باب لازم تصمیمونه ونیول شول

د فاریاب ولایت د اندخوي په ولسوالي کي:

د اسلامي امارت په ملاتړ غونډه جوړه شوه

د دین او هیواد د دښمنانو کرغېړني توطیې او دسیسي پرون د فاریاب ولایت د اندخوي په ولسوالي کي د یوې پراخي غونډې په ترڅ کي حاضرینو ته څرګندي شوي.

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ په دغي غونډه کي ٤ مخ

د کابل ولایت د کرني ریاست

خبرتیا

د کابل ولایت د کرني ریاست د کروندګرو اوبهوالو سره د مرستي لپاره د کرنیزو آفتونو او ناروغیو یوه اندازه درمل برابر او په ټیټه بیه یې وړاندي کوي.

اړتیا لرونکي کولي شي خپل د اړتیا وړ درمل د شهر را را برج ته څېرمه د کابل ولایت د کرني ریاست نه تر لاسه کړي .

د اوبو او بریښنا وزارت معین محترم مولوي عبدالهادي اخند له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي : دریمه برخه

کله چي کابل پوهنتون خپل د ضرورت ور تجهیزات خریداري او آماده کړي موږ حاضر یو چي د کابل د پوهنتون بریښنا تأمین کړو

پوښتنه : د کابل پوهنتون او مرکزي لیسي د بریښنا د بیا فعالولو په هکله څه پروګرام لري ؟

ځواب : د اوبو او بریښنا وزارت له ۱۵ کیلو واټو هوایي مزي له شمال لودیځ سب ستیشن نه د کابل پوهنتون تر ساحي پوري غزولي دي په پوهنتون کي ۸ ترانسفارموستیشنه موجود وه چي ویجاړ شوي دي او د پوهنتون په جایداد ٤ مخ

په بلګراد کي د چین د سفارت څلور تنه مړه او څلور تنه ټپي تم شول

د چین خبري آژانس پرون رپوټ ورکړ چي په بلګراد کي د چین په سفارت باندي د ناټو د دریو توغندیو د لګیدو له امله څلور تنه ووژل شوي او څلور تنه نور ټپي تم شویدي. چین په یوګوسلاویا باندي د ناټو هوایي برغلونه چي د تیر مارچ په ۲٤ نیټه پیل شویدي په پرله پسي توګه غندلي دي.

دغه راز چین دا بریدونه وحشیانه بللي او هغه یې د ملګرو ملتو د سازمان د منشور خلاف ګڼلي دي.

کابل په اړو کورنیو :

د آي . سي . آر. سي مرستي وویشل شوي

د اي.سي.آر.سي نړیوالي کمیټي د تیري اوونۍ په ترڅ کي د کابل ښار په دوه زرو شپېیتو اړو کورنیو باندي لومړني مواد ویشلي دي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دغو موادو کي چي اوړه وریجي، نخود، د لاس مینځلو ، کالو مینځلو صابون شامل دي او ۱٦ ناحیه کي په بوزرو څلور سوه دوه اویا اړو کورنیو او د کابل ښار په پنځمه ناحیه کي پنځه ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

مسعود له وحدت سره په مرکه کي :

د وحدت ورځپاڼي د ۱۳۷۸ لمریز کال د غوایي د ۱٦ مي او د ۱۹۹۹ م کال د مي د ٦ مي په ګڼه کي د مسعود په نوم یوه مرکه خپره کړي ده :

په مرکه کي لیکل شوي دي چي که بهرني مرستي رانالندي شوي نو د افغانستان خوښي کولو ته تیار یم « یو څوک چي د شرم او حیا له پولو واوړي، نو بیا هر څه ویلاي او کولاي شي، د یوه مبارک حدیث مضمون دي وایې چي « د له شرمېږي نو څه چي غواړي هغه کړه » هر دا خبره ده په هغو وخثونو کي نشواي کولاي چي په قزاقستان کي ده ته رواني وسلي او مهمات په اور ګاډي کي بارولبول شول او پرله پسي ټري وړباندي وغېږېده اوته بي په هغه وخت کي کولاي شواي چي له کولاب نه د ۲ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
د یوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداره
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګۍ تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

وسلو، مهماتو او پیسو راچلوونکې الوتکه د بګرام له هوايي ډګر ته د وسلو او مهماتو له ښکته کولو وروسته کابل ته راغله او پیلوټانو یې ټوله نړۍ د وسلو راچلولو په جریان خبره او پرده یې ورنه پورته کړه .

د شوروي د وخت د جنرالانو په شلګونو ګواهۍ او ثبوتونه په دې چې مسعود د کې، جي، بي لاس په نامه نوکر دی اوریدونه او پروتوکولونه یې وروسره لاسلیک کړي دي، دا هم نړېوالو منلي ده دا چې پخوا شوروي او اوس روسیه په زرګونو ملیارده افغاني بانکنوټونه چاپوي نیمايي ده ولي ته ورکوي او په نیمايي نورو باندې خپل ځان ته په بازارونو کې دالر اخلي دا هم نړېوالو منلي ده تیره میاشتې په تاجکستان کې د روسیې د دفاع له وزیر څخه د دستورو نه اخستلو هم نړېوالو منلي دي په لسګونو او شلګونو ثبوتو نه شته چې نړېوالو منلي او باور یې ورباندې راغلي دي اوس ده په منکر کیدلو سره د نړۍ باور له منځه نه ځي، که هر څومره مسعود په دې خوشباورۍ سره چې ګټي اوس به دغه ثبوتونه له نړېوالو څخه هېر شوي وي څومره انکار وکړي خو افغانانو او نړۍ ښه پیژندلي چې تر څو پورې کولای شي پردو ته به کار کوي او د هیواد قیمتي کاڼي به په نیمه بیه پلوري او د ځان لپاره به یې هلته ذخیره کوي چې چیرته به تښتي او بې فرهنګه ټوپکیان به یې سرنوشته پریږدي، بل ټکي چې ده په مرکه کې راغلي دي ده د انډیوالانو (کمونستانو) هغه شعار دی چې مجاهد افغانان به یې د امریکا او امپریالیزم ګوډاګیان بلل،

د افغانستان دیندارولس چې د طالبانو د اسلامي تحریک او بیا د اسلامي امارت په مشرتوب د شر او فساد ټغر ورټول او دوي یې اوس بوه کونجکي ته ایسار کړي دي اوس مسعود هغه شعار د کمونستانو په لهجه تکرار کړي دي چې وايي د افغانستان د امریکې ایجنټانو ته نه شم خوشې کولای، ده د شر او فساد په ضد ټول افغانان ولاړ دي، دي چې ددغه باتور او دیندار ولس توهین او سپکاوي کوي نو دا به څنګه او څرک ومني چې : - حاشا لله- ټول افغانان دي د بل چا ګوډاګیان وي خو دي دي له دوسره ثبوتونو سره سره د روس او نورو دښمنانو ګوډاګي نه وي ؟

په مرکه کې نوري بې ربطه خبرې هم شته چې په هغه کې د خبرو اترو له لارې نه د یو حکومت جوړول ، د تیرو خبرو د ناکامۍ پړه په نورو اچول او داسې نور راغلي دي خو داواره د بوه مالیخولیايي ناروغ خبرو ته ورته دي،

که چیرته مرکه د مسعود خپله وینا وي نو داسې ورته جوتیږي چې د روحي فشار یې ډیر لوړکچ ته رسیدلی دی، په ډیره روحي تنګسه کې ګیر او ذهني توازن یې ګډوډ دی، په داسې حال کې هم ده بادران زړه سوي نه ورباندې کوي چې له دغې جسمي، روحي او ذهني ناروغۍ نه د وتلو مشوره ورکړي .

د استعماري ځواکونو دا خاصیت او ځانګړتیا ده چې په خپلو لاس پوڅو د ځنکدن پوخت هم زړه سوي نه کوي او له مرګه وروسته یې د زوړوکي غوندي په اهانت سره غورځوي؛ که د پردو فشار نه وي نو کوم لیوني به د خپل ټول هیواد او هیوادوالو په ضد وسلي ته لاس اچوي، د پردیو په لوښتو به یې تباه کوي، سولې او ارامۍ ته به یې له پریږدي ؟ په نورو برسیره د هغو هیوادوالو ورځ تر بدو بده ده چې ده او ده د ټوپکیانو تر برچې لاندې ژوند کوي، هغه خوارکیان د دوي له ظلمونو او تیریو نه له بوي خوا، د خوراکي شیانو او ژوند د اړتیاوونه موندلو له بله پلوه له ژوند څخه بیزاره کړي دي او مرګ ته ترجیح ورکوي، د افغانستان اسلامي امارت د هغو مسلمانو د ژغورلو لپاره په سیاسي او نظامي ډګرونو کې خپلې ټولې هڅې په کار اچولي دي، وبه ګورو چې الله تعالی ته به د هغو مظلومانو او نورو هیوادوالو د ستونزو پای ته رسول څه وخت منظور وي ؟

ربنا ظلمنا انفسنا ...
رب اغفر و ارحم ...

په اسلام ... دوګړو حقوقو ته یوه لنډه کتنه

لیکوال: مولوي محمد اسغر «ثاقب»

... په اړه لړزوونکي انکشافات

شمالي ائتلاف د روسانو د سیاسي پرغا وروستی سنګر

(۹)

... ددغو لوټو او غارشولو لمن ټوله او د دښمنانو شوریدلي لومې او ځنځیرونه وشلول او د افغانستان ملي یووالي او ځمکنۍ تمامیت یې خوندي کړ .

...

سبزیجات یې لکه شلغم، ګوبي، تور باتنجان ، رومي باتنجان، رومي ...

... د سالداري عمومي مدیریت دی چې ...

...

ط : همدا راز د کرهنې د ریاست مربوطه د پلان مدیریت دی چې هغه په هره ربع کې د اړونده مدیریتونو څخه د عوایدو راپور ... تهیه کوي او ...

ي : اداري مدیریت دی چې د ریاست د مربوطه مدیریتونو او ... د ارسال مرسل د مربوطه ... سره ترتیبوي او اجراات کوي دا ریاست په نظر کې لري چې ... د امکاناتو په صورت کې ... تر څو د هیواد والو د ... اسباب او لارې ولټوي او اسلامي امارت به خپله د زرعي پیداوار ... خود کفا او د بهرنیو هیوادونو د احتیاج څخه خلاص شي.

ای وطن

عصمت الله «معروف»

اي وطن جـان من ايمـان مني
مـهد اجداد و نيـاكـان مني
همچو مادر جان بقربانت شوم
عندليب مست و خوشخوانت شوم
عـاشق اين كـوهسـارانت شـوم
افـتـخـارم شـوكت و شـان مني
من چه گـويم ابرو باران ترا
سـبزه زار و جـويبـاران ترا
مـوجـهٔ گل لاله زاران ترا
چون چراغ نور چشـمـان مني
هرچه در آغـوش تو آمـوختم
آتش مـهـرت به دل افـروختم
از غـمت پروانه آسـا سـوختم
خـانه فـرهنگ ودبسـتـان مني
نام دارد مـردم تو در جـهـان
دره هايت سبزو خرم شـادمـان
باغ تو باشـد سـرسـبز جـاودان
جنت ثاني گلسـتـان مني
جـا گرفتي خوش به قلب آسيا
خـاك پاكت نزد من چون كيـميـا

جان خـود را مي كنيم هر دم فدا
جـان چه باشـد بهتـر از جـان مني

غزل

مير جان «وحيد احمدزي»

لاس په دعـا يو چي اسمان د ښكلو — كاشكي پر موږ وكړي باران د ښكلو
ښكاري اغـيـارو لـسـولي راته — پر موږ چي تل راځي خزان د ښكلو
كړه اتنگي خړوب داوښكو په سيند — گوندي زرغون شي پري گلان د ښكلو
دلتـه پرون واك د پردو په لاس و — ځكه مو ځيري و گريوان د ښكلو
زړه نړولي دي مـغلو سـتـرگـو — خدايزده چي تير شي پري كاروان د ښكلو
د سپرلو وږم بي كمځو كي نغښتي — خود به خوشبوي لري زعفران د ښكلو

ويريږي ، هسي نه چي بيـا به راشي
«وحيد» ليدلي دي هجران د سكلو

د شعر او ادب

سلطان بهار

مير ظهور الدين «شهير»

دي شد بهار آمد كنون گل گشت سلطان بهار
جان تازه ميبخشد مرا اين فصل خندان بهار
آمد بهارو تازه شد دشت و دمن هم كوهسار
وين سبزه و گل شد برون از بطن دامان بهار
گلها به هر سو سر زده كرده شگوفه شاخسار
دل را ربود از نزد من اين سرو وبستان بهار
سر را برون كردي زجا شهوار در بابي اگر
يك قطره نوشي اي صدف از ابر نيسـان بهار
كِشتار ها پر آب شد مرغ و چمن سيراب شد
فرش زمرد گسـتـريد از فيض باران بهار
تازه درختـان را همي ديديم ما در فصل ري
تاژو نگر نوشيده است از آب حيوان بهار
در آسمان انجم فروزد در زمين اقسـام گل
اين انجمن باشد بلي از فضل رحمان بهار
بر خيز اي مسكين«شهير» از عشق گلشن گپ مزن
در حب ميهن گو سخن كار است و ميدان بهار

ويده بهرام

محمد نعمان «دوست»

جگي ، جگي سپينو زاڼو!
لږ راكوزي شي
دوره شي
د مست سيند پر غاړه كيني
د وزرو څوكي لندي كړي
گوري
گوري هلته تا خبره،
بهرام پروت ستړي ستومانه،
غږ مو ناست، ستوني مو وچ دي
هلي راشي
پر گردجن مخ، بي ورو شيندي له خپلو وزرو څاڅكي
هسي نه چي گل اندامه،
تور ديوان له غرو پناه كړي

د اوښكو څاڅكي

زيږ مازيگري دي د چنار زرغوني لښي د گودر په اوږو كي ځانونه سينگاره وي د پسرلي نري ويمه د لمسو په زرغونو څوكو چليږي تور غرونه په سپينو اوږو مخونه وينځي بوه ښكلي زړكه په سره منيو كه د خپل ارمان سندري وايي او هغه د وير سندري.
هوا له وېره وختنه بي ملگري ورك دي نه پوهيږي چي د كوم ظالم ټيوس منگولو ته ورغلي دي هره ورځ زموږ د كور مخامخ په كمره ناسته وي. او! ته بيا د ښكلو څيـر زاړي . د خپل راتلونكي انتظار په اوښكو بدرگه كوي. زه نه پوهيږم دلته به دا غمجن اواز تر څو زما په غوږوكي د وير سندري وايي. زه هره دقيقه د ښكلو لپاره فكر كوم چي داسي اوازونه نه صوږ ته څه يـغـام لري. وير څمـريـم يا خدايه ! ته مي ويني زه له څومره مشكل سره مخامخ يم. زه څه لرم زما په لاس كي څه پاته دي يوه دعـا پاته ده او بس زما دعـا د زړگي د ژوند درد نه ارامه وي زمـا د عا د شونډو په سر ده زه زړگي زما دعا تاته د قبول ور نه ده نه هغه څه قـبـلوي چي زړه له تل څخه وي زه او د غره زركه دواړه پر مشكل لرو هغه د ورك ملگري. زما هم ملگري ورك دي او تور د يو د گناهيو په پنجـوه كي راته ورك كـري دي يا خدايه زمـوږ د اوښكو څاڅكي قبول كړه او زموږ ملگري ورغ رمتها.

جامعهٔ ما به كدام نوع روشنفكر نياز دارد؟

پوهيالي ليلما «يما»

امروز جامعه بشريت در آن مقطع زماني قرار دارد كه بيشتر از پيش به روشنفكر نيـازمند است، و اين نيـازمندي را امروز ما هم شديداً در جامعه، خود احساس ميكنيم.

جامعه، ما در زمان فعلي اشد نياز به روشنفكر دارد. البته روشنفكر اصيل ، حقيقي، آگاه يعني روشنفكري كه فكر و عملش با هم مطابقت داشـتـه و يكنوع حس همدردي عـميق نسبت به جامعه و مردم در وجودش بيدار شده باشد.

روشنفكري كه درمـانگر درد ها و مرهم گذار زخمهاي اجتماع خود باشد و از زمره، آگاه ترين افراد به شمار رود.

اين نكـتـه را نيـز فـرامـوش نبايد كرد كه روشنفكر تا زماني كـه ريشـه هاي درد را دريافت نكند و آن را از بيخ و بن از بين نبرد مداوا و مرهم گذاري اش بي اثر است. و البـتـه دريافت ريشـه هاي درد با آگـاهي روشنفكر ارتباط مستقيم دارد كه همين آگاهي بعداً باعث پديد آمدن فكر در روشنفكر ميشود.

روشنفكر بودن و روشنفكر شدن كار ساده و سهل نيست و با تحقق بخشـيدن چند تعـبير و قاعده، مخـتـصـر در وجود، نميتوان خود را روشنفكر خواند.

واژه روشـنفكر به مـعـناي حقيقي كلمه همانا معادل واژه انسان كامل و انسان آرماني است كه ابر مردان فرهنگ و تمدن ما چون مـولاناي كـبـيـر شـمس تبريزي، حافظ شيرازي و ديگر بزرگان ازِ آن سخن گفته اند، كه صـفـات چون : انديشـمـندي، بينشمندي، زمان آگاهي، خـود آگاهي، خويشتن داري، خود و خود مختاري، ديگر خواهي و مردم داري، ايثار و فداكاري ، رها سازي و استقلال بخشي، فروتني و گردنكشي ، رهايي از پيش داووري، عشق و آرمـان، اصالت، خلاقيت و ابتكار و استقامت و پايداري را در وجود خود به تحقق رسانده باشد.

و از نظر ما كاملترين انسان و روشنفكرترين انسان شخصيت حضرت پيامبر اسلام «ص» است، و تلاش و كوشش يك روشنفكر اصيل و حقيقي هم در آن است تا خود را متصف به صفات حضرت پيامبر اسلام «ص» نموده و از خود يك انسـان كـامل سازد، و بدين ترتيب انسان آرماني را كه در ذهن دارد نخست در وجود خود تحقق مي بخشد چه يكي از اهداف روشنفكر از تكامل بخشيدن وجـودش آنست تا وجـودش براي ديگران نمونه قرار گيرد.

تحقق بخشيدن خصوصيات انسان آرماني و روشنفكر اصيل و حقيقي در وجود، ممكن و ميسر نيست مگر اينكه فرد در نخستين وهله به شخصيتش توجه نموده و از ابعاد گوناگون وجودش همواره آگاه باشد.

داشتن شهامت و دليري، غرور انساني، جرأت اخلاقي، آگـاه بودن بر مسايل، صبور و شكيبا بودن در برابر مصايب، مشكلات نا ملايمات، دشواريها، زدودن خود خـواهي ها، خود كامه گي ها، خود سري ها، بت پرستيها، و شكستن بتها از صفات نيك يك روشنفكر به شمار ميرود.

ترس ، زبوني، خود كمتربيني و خود برتربيني با اخلاق روشنفكري همـاهنگي ندارد و كـوچكترين بي توجهي نه تنها شخصيت روشنفكر را متضرر ميسازد بلكه مانع رشد، نمو و اجراي كار هاي نيك و سالم وي نيز ميگردد. چه هر گاه صفات منفي وارد دسـتـگاه فكري روشنفكر شودافكارش را متلاشي ساخته باعث سلب تفكر وي ميگردد.

روشنفكر با افراد عادي جامعه فرق فاحش دارد البته اين فرق در صفـات آنهاست نه در صورت و هيكل شان . چه روشنفكر انسـان سرزنده و پر تحرك بوده و افكارش را با درنظرداشت فكر اساسي كه دارد به صـورت منظم و سيستماتيك ارائه ميكند. ولي او هيـچگاهي حق ندارد و نبايد به خـود حق بدهد كه بخاطر همين فـرقش ، بالاي سـاير افراد فخر بفروشد و خود را بر تر بداند و از طرفي هم اگـر يك روشنفكر به صورت حقيقي، علم و دانش فرا گـرفـتـه باشـد هيچ وقت افكار احساسات منفي چون خود خواهي و فـخـر فـروشي در ذهنش خطور نميكند و در وجودش تبارز نمي نمايد.

روشنفكر با داشتن چنين يك خصوصياتي است كه ميتواند از وجـود فـردي خـود بدر شـود و بر اجتماع خود اثر بگذارد. و اجتماع هم به همچـو روشنفكران نيـاز دارد. چنين روشنفكران انسانهاي آرماني جامعه، خود هستند وقتي جامعه خصوصيات، و صفات انسـان آرماني خـود را در وجود چنين روشنفكران تحقق يافتـه ميبيند، به آنها اعتماد نموده و احترام خالصانه مينمايد و هر عمل و عكس العـمـل شـان را مـورد سرمشق خود قرار ميدهد و به اين ترتيب رهبري جامعه كه وظيفه خطير و پر مسـؤوليتي است به روشنفكر انتقال ميبابد.

ولي با كمال تأسف بايد گفت كه امروز در جامعه ما نه تنها اعتـبـار و اعتـمـاد مردم از روشنفكر سلب شده بلكه واژه، روشنفكر هم معنا و مفهومش را از دست داده است . عـوامل زيادي باعث شده كه اعتماد مردم از روشنفكر سلب شود.

احساس مسؤوليت اجتماعي، روشن نمودن افكار و ذهن مردم و آگاه ساختن آنها از حقوق حقـه، شـان، نزديك شدن و پيوستن به عامه، مردم بر قرار نمودن نظم و عدالت از جمله وظايف درجه يك ، روشنفكر به شـمـار ميرود در حاليكه در امـروزه روز در وجـود اكـثـر روشنفكران ما اصلاً چيزي به عنوان احساس مسؤوليت اجتماعي وجود ندارد تمام هم و غم آنها متوجه خود و فاميل شان است.

هرگاه پاي منافع خود شان و يا يكي از دوستان و وابسته گانشان در ميان باشد منافع اجتماعي را به خاطر حفظ منافع خود بهم ميزنند. بجاي روشن شدن ذهن و آگاه ساختن افراد و دادن جرأت اخلاقي به آنها، ايشـان را سـر زده و زبون ميسازند. تا زمينه فخر فروشي و خود كامه گي خود شان فراهم شود. با انجام دادن چنين كار ها نظم و عدالت خود بخود به هم ميخورد. روشنفكر جامعه ما بيش از حد و اندازه تجمل پرست و مادي گرا شده به آن حدي كه سعادت و خوشبختي خود را وابسته به پول و دارايي ميداند و همين علت است كه سطح زنده گي او به مراتب بالاتر از سطح زنده گي مردم است. و به گفته يكي از روشنفكران معروف : روشنفكر در كاخ است و مردم در خرابه و طبعاً آدمي كه در كاخ زنده گي ميكند با ادمي كـه در خرابه به سر ميبرد، يكسان نمي انديشد اگر روشنفكر ميخواهد درمانگر درد هاي مردم خود باشد، نخست از همه آن حايلي را كه ماديات بين زنده گي او و مردمش كشيده است از ميان بر دارد.

عامل ديگر سلب اعتماد مردم از روشنفكر، بي ايمـان بودن و عدم اعتقاد عده يي از ايشان نسبت به خداوج» است اين عده نه تنها خود شان بي ايمان و فاقد اعتقاد اند و عبادت و طاعت را چيز اضافي و وقت تباه كن ميخوانند بلكه «انـي ميـنگرند سـاير افراد و مخصوصاً يك روشنفكر صاحب ايمان و اعتقاد به خداوج» باشد برايش جالب جلوه ميكنند و حتي اگر موقع برايش ميسر شود به مسخره كردن آن روشنفكر نيز ميپردازد .

به عـقـيـده آنهـا از حق و حقيقت حرف زدن و اوامر الهي را به سر رساندن نشانه ضعف است، در حاليكه ضعف در شناخت و ديد خود شان موجود است كه همين گونه افكار پوچ و ميان تهي از آن منشأ ميگيرد. آنها با واژه حق و حقيقت چنان در تضاد اند كه يك روشنفكر مومن با اهريمن در تضاد است و همين علت است كه پيوسته در رنج و عذاب به سر ميبرند در حاليكه اگر آنهـا همچـو روشنفكران مـومن با ارمـان اشاعه، حق و حقيقت كارشان را بياغازند شادي و خوشي بي پايان را نصيب ميشوند.

همين بي ديني و لا مذهبي روشنفكر سبب شده تا اعتماد مردم صد فيصد از روشنفكر سلب شود آنها خود را جدا از روشنفكر دانسته و ايشان را مرتد و بي دين ميشمارند.

ما نميتوانيم اعتماد و اعتبار مردم را به خود جلب كنيم مگر اينكه چند نمونه، روشنفكر اصيل و حقيقي كه واقـعـاً يك روشنفكر باشد و انساني باشد خود آگاه ، ديگر خواه، متقي، پرهيزگار و متصف به صفات يك روشنفكر اصيل تقديم جامعه نماييم تا آن خط فاصلي را كه روشنفكران كاذب ميان مردم و روشنفكر ايجاد كرده اند از بين بردارد.

امروز جامعه ما حتي جهان بشريت به روشنفكر مومن نيازه دارد، روشنفكري كه روشنگري عقل، تعميم عدالت، ياد دادن حركت آگـاهانه و عـادلانه به مردمان و به فعل آوردن انها، و مبارزه با باطلپرستيها را از وظايف درجه يك خود بشمارد و به مـردم ياد دهد كه اگـر زير فرمان حق حركت كنند لذايذ معنوي بيشماري را نصيب شده و ديگر چيزي در زنده گي شان به نام غم و اندوه وجـود نخـواهد داشت.

د اوبو او برېښنا وزارت معین محترم مولوي عبدالهادي...

کښې شامل دي مونږ کابل پوهنتون ته د تجهیزاتو لست ترتیب او تسلیم کړي دي. کله چې کابل پوهنتون خپل د ضرورت وړ تجهیزات خریداري او آماده کړي مونږ حاضر یو چې د کابل د پوهنتون برېښنا تأمین کړو.

پوښتنه : ویل کیږي د برق د تولید توربینونه زیات مشکلتي دي او د برق د تولید اندازه یې کمه ده تاسې د توربینونو د رالېږلو په هکله څه تصمیم لري ؟

ځواب : د تېرو شلو کالو بېموده کښې د دستګاو لپاره ضروري پرزه جات نه دي برابر شوي نو ځکه اکثره دستګاوي استهلاک شوي او تولیدي قدرت یې کم شوی دی. د اوبو او برېښنا وزارت موجوده زړو پرزو څخه کار اخیستی دی او دستګاوي یې تر اوسه فعالې ساتلې دي. کومه مهمه ستونزه په دستګاو کښې تر اوسه نه لیدل کیږي د تېر کال په ژمي کښې بارانونه بیخي کم وه له دې کبله د نغلو دستګاه په ذخیره کښې اوبه کمې شوې نو ځکه د کب په میاشتې کښې د کابل په ښکه کښې د برېښنا انرژي په نوبتي توګه تأمین کېدله الحمد لله اوس د اوبو جریان د نغلو په بند کښې ښه شوی دی او برېښنا پرته له پرچاوي نه توزیع کیږي . کله کله کوم تخنیکي مشکلات پیدا کیږي د لږ وخت لپاره پر چاوي راځي او بس. د اوبو او برېښنا وزارت داسې **پلان لري چې د امارت د مالي او تخنیکي امکاناتو سره سم نوي توربینونه او دستګاوي خریداري او ګټې اخیستلو ته تیاري کړي .**

پیښې او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

شورشیان کولمبیا هفت تن اسیران خود را آزاد کردند

شورشیان در کشورکولمبیا واقع در امریکا جنوبي که از اواسط ماه اپریل تا کنون سي و دو مسافر یك طیاره را گروگان گرفته اند هفت تن از اسیران خود را آزاد کردند اعضاي اردوي آزادیبخش ملي کولمبیا میگویند جریان رهایي این هفت نفر در حصص شمالي آنکشور آغاز شده است . اعضاي اردوي مذکور رهایي این گروگانان را به عقب نشیني نیرو هاي حکومتي از حصص شمالي کولمبیا مربوط دانسته بودند. اردوي آزادیبخش ملي کولمبیا بتاریخ دوازدهم ماه اپریل مسافرین یك طیاره را که روانه بوگوتا مرکز کولمبیا بود گروگان گرفتند.

عملیات امداد رساني به مناطق آسیب دیدهٔ زلزله در ایران آغازشد

بدنبال وقوع زلزله شدید در جنوب ایران عملیات امداد رساني به مناطق آسیب دیده آغاز گردیده است . به گزارش منابع خبري بین المللي از اثر این زلزله که تکانهاي قوي بدنبال داشت حد اقل بیست و هفت نفر تلف گردیده و حدود یکصد تن دیگر مجروح شده اند.

شدت این زلزله که مرکز آن در پنجاه کیلو متري جنوب شهر شیراز ایران گزارش گردیده شش اعشاریه پنج درجه ریکتر ثبت گردیده است . بدنبال این زمین لرزه حدود پنجاه تکان کوچك زلزله نیز رخ داده است که شدید ترین آن به ساعت ده بجه و پنجاه و نه دقیقه صبح دیروز شدت چهار اعشاریه پنج درجه ریکتر بوقوع پیوست مواد اولیه و البسه ضروري به مناطق آسیب دیده ارسال شده است . از اثر این زلزله به چندین شهرك و بیست و پنج قصبه ایران خسارات قابل ملاحظه یي وارد گردیده است .

افرادیکه ورزش کرده اند کمتر به مرض قلب مبتلا میشوند

بر اساس جدید ترین تحقیقات به عمل آمده عکس برداري از قلب پس از انجام تمرینات ورزشي توأم با استفاده از مواد رادیو اکتیف میتواند در تشخیص افرادي در معرض فزاینده مشکلات و نارسایي هاي قلبي مفید باشد مطالعات قلبي نشان داده بود افرادي که تمرینات مقاومت ورزشي را با موفقیت انجام اده اند کمتر در معرض خطر مبتلا شدن به مشکلات قلبي هستند اما در تحقیق منتشر شده در نشریه انجمن قلبي امریکا موسوم به «سیکولیشن» اعلام شد که محققان امریکایي دریافته اند تعدادي از افرادي که قادر اند براي مدت زمان طولاني تمرینات ورزشي را انجام بدهند هم احتمالاً در معرض خطر فزاینده نارسایي ها و مشکلات قلبي قرار خواهند گرفت .

نماینده گان کنوانسیون اوتاوا به منع استعمال ماین هاي زمیني تاکید ورزیدند

کشور هاي طرفدار ممنوعیت ماین هاي زمیني تاکید ورزیدند که به تلاشهاي شان جهت ریشه کن ساختن این سلاح شدت مي بخشند. ماین هاي زمیني سالانه هزاران نفر را به قتل میرسانند و یا آنها را معیوب میکنند. نماینده گان چهل و سه کشور از جمله هفتادو شش کشور عضو کنوانسیون اوتاوا براي محدودیت استفاده از ماین هاي زمیني ضد نفر دیروز به کنفرانس پنج روزه خود در شهر میتو در موزمبیق پایان دادند نماینده گان در این کنفرانس منع استعمال ماین هاي زمیني مجدداً تاکید ورزیدند .

طبق احصائیه مؤسسه صحي جهان :

هر سال بیش از یك ملیون طفل به اثر مریضي که میتوان آنرا با تطبیق واکسین وقایه کرد از بین میروند احصائیه هاي مؤسسه صحي جهان نشان میدهد که تلفات اطفال در جهان ناشي از امراض کشنده اطفال تکان دهنده است در احصائیه موسسه صحي جهان گفته شده که سالانه نه صدو شصت طفل بر اثر مرض سرخکان در جهان تلف میشوند.

همچنان طبق همین احصائیه دو صدو هفتادو هفت هزار طفل در اثر مرض تیتانوس جان شانرا از دست میدهند چار صد هزار طفل دیگر بر اثر سیاه سرفه مي میرند و بیش از یك ملیون طفل دیگر کمتر از سن پنج تا هفت سال هر سال به اثر مریضي هایي که میتوان با تطبیق واکسین و خالکوبي آنرا وقایه کرد از بین میروند.

چگونگي تأثیر دوا هاي بي حسي در مغز

دانشمندان چگونگي تأثیر دوا هاي بي حسي را در مغز کشف کردند. دانشمندان دریافتند که چگونه دوا هاي بیهوش کننده سبب بیهوشي افراد شده و در واقع قسمت هاي مهم مغز را بخواب مي برند. داکتر مایکل الفاید و همکارانش در پوهنتون کلیفورنیا ایالات متحده امریکا میگویند انجام فعالیت مغزي نشان میدهد دوا هاي مختلف به سبك متفاوتي افراد را بیهوش میکنند. داکتران یکصدو پنجاه سال است که از دوا هاي بیهوش کننده براي بیهوش کردن مریضان به منظور عمل جراحي و دیگر اقدامات طبي استفاده میکنند اما هیچگاهي کسي هم از نحوه تاثیر این دوا ها اطلاع ندارد این مطالعات جدید میتواند در تهیه دوا هاي بیهوش کننده که اکنون مورد استفاده قرار میگیرند و تهیه انواع جدید که بروي قسمت هاي مورد نظردستگاه عصبي اثر مي گنند به دانشمندان کمك کند .

د روسیې د اتومي حیرنو په مرکز کې سخته چاودنه

د روسیې د اتومي حیرنو په مرکز کې پرون یوه سخته چاودنه وشوه چې دغه مرکز ته یې زیات تاوانونه واړول. د تریوالو خبرخپرونو د رپوټ له مخې ددغې چاودنې له امله په دغه ټول مرکز کې اور ولګید او ددغه اتومي مرکز زیاتره تاسیسات وسوزېدل. د روسیې د انرژي وزیر له دغې پیښې نه څو ساعته وروسته وویل چې دغه پیښه د امنیتي مسوولینو د بې احتیاطي له امله رامنځته شوه او د مسکو اوسېدونکو ته یې د رادیو اکتیف د خپرېدو له نظره هیڅ ډول خطر نه دی متوجه کړی ده وویل د ژوند چاپېریال ته هم کوم ګواښ نشته دی.

در سراسر کشور بیش از ...

مي آید تا با استفاده از کمپاین مذکور اطفال کمتر از پنج سال شانرا غرض تطبیق واکسین به مراکز صحي حاضر نمایند.

د بنګي او سالنګ په ...

بې تېښتې شویدي چې د هغوي مړي د جګړې په ډګر کې پر ځای پاتې شویدي.

په جلا جلا استقامتونو کې د دښمن بریدونه د هیڅ ډول بریالیتوب او پرمختګ پرته له ماتې سره مخامخ شول. او د اسلامي اردو د مجاهدینو د ځوابونکو ګوزارونو په نتیجه کې هغوي ته ځاني تلفات او مالي زیانونه ورسېدل. او د دښمن یو شمېر نظامي وسایل او تجهیزات د اسلامي اردو د توپچي قواوو په دقیق هدف نیولو سره ویجاړ او له منځه تللي دي.

یو مربوط خبرځای په دې باب وویل د اسلامي امارت د مخالفینو د هماغګو او بر له پسې بریدونو سره سره چې په بېلا بېلو استقامتونو کې د اسلامي اردو د مجاهدینو په سنګرونو د څو ورو ستیو ورځو په ترڅ کې د هغوي د بهرنیو باداراتو لخوا سازمان ورکړل شویدي تر اوسه هیڅ ډول نظامي ارزښت نه لري بلکې د ځاني او مالي تلفاتو او زیانونو په زغملو سره د شا تګ او تېښتې په حال کې دي.

خبر ځاي زیاته کړه د اسلامي اردو مجاهدین په ټولو استقامتونو کې په عالي جنګي مورال او لوړو محاربوي احضاراتو سره له خپلو سنګرونو دفاع کوي او دښمن ته بریدې چې د خلکو ارام او راحت ژوند ګډوډ کړي .

فارمهاي زراعتي ولسوالي ...

قولن که ساحه بیش از یکهزار و پنجصد جریب زمین را احتوا مینماید بصورت عموم تخریب گردیده و اراضي آن که ملکیت بیت المال است بین قوماندانان ملیشه هاي شریر و افراد شان تقسیمات گردیده بود که بعد از استقرار امارت اسلامي در صفحات شمال کشور اراضي متذکره دو باره به امارت و بیت المال متعلق گردید.

موصوف در رابطه به فعالیت منسوبین ریاست زراعت آنولایت در طي سال گذشته گفت : طي سال گذشته علاوه از آماده ساختن اراضي فارمهاي تخریب شده براي زرع شانزده هزار هکتار زمین زراعتي را در ولسوالي خلم از تهاجم ملخ حفاظه نموده و اراضي وسیع دشتي را که هزاران جریب زمین بوده و فارم طبیعي بوته هاي زیره و هنگ میباشد و همچنان بیست و هفت هزار جریب زمین زراعتي را که ملکیت بیت المال بوده از تصرف اشخاص خارج و به امارت متعلق ساخته است بهمین گونه فارم گوسفند. قره قل با موجودیت یکصدو ده رأس گوسفند دو باره احیا و به بهره برداري سپرده شده است و با فعالیت دو باره هفت باب کلینیك حیواني در سطح ولایت طي سال گذشته ۶۷۰۰۰ راس حیوان تداوي و ۳۱۰۰۰ رأس دیگر وقایه گردیده و در نظر است در آینده در مقدار توزیع کود کیمیاوي ادویه زراعتي و تخمهاي بذري براي دهاقین تزئید بعمل آید.

د سرغ پارسا په ...

د بچیانو د سالمې ښووني او روزنې لپاره یې د استادانو رسالت څرګند کړ .

وروسته څو تنو استادانو د موضوع په باب خبرې وکړې او په دې ترڅ کې چې د افغانستان د اسلامي امارت له فرهنګي ټګلارې څخه یې قدرداني وکړه د هیواد د بچیانو د سالمې روزنې لپاره یې خپل تیاري وښود.

د سیاسي خبرونو او ...

اطلاعاتو او کلتور وزارت محترم سرپرست د هیواد د رواڼو سیاسي او نظامي مسألو په باب اوږدې خبرې وکړې او په نظامي او سیاسي برخو کې یې د افغانستان د اسلامي امارت بریالیتوبونه څرګند کړل ددفاعي ځواکونو تر څنګ یې د اسلامي امارت د رواني تګلارې په رڼا کې د هیواد د ټوله بیزو اطلاعاتو د وسایلو په رول ټینګار وکړ او د ټوله بیزو اطلاعاتو د وسایلو د چارواکو د کار مهمې او اساسي برخې یې څرګندې کړې . ده دغه راز په هیواد کې د نشراتي چارو په همکارۍ اوپیاتیه کې د عالمانو او پوهانو ونډه یوه مهمه ارتیا وبلله . د غونډې په بهیر کې په طرحه شوې اجندا کې د شاملو تورو● مطالبو او موضوعګانو په باب غور وشو او لازم تصمیمونه ونیول شول او اړوندو مراجعوته ابلاغ شول.

د لغمان ولایت د پوهنې ...

یو زیات شمېر خلک او یو شمېر مسؤولین حاضر و د ختیځ زون د تنظیمیه ریاست مرستیال محترم مولوي صدراعظم په عالیمانه وینا سره پرانستل شو .

دغه کتابتون چې بېلا بېل دیني او عصري کتابونه لري هره ورځ د علم او پوهې د مینه والو په خدمت کې دی.

د یو بل خبر له مخې د ختیځ زون د تنظیمیه ریاست محترم مرستیال پرون په داسې حال کې چې د لغمان د سلمې فرقې محترم قوماندان او ددغه ولایت امنیه قوماندان ور سره و ددغې فرقې او د لغمان ولایت د امنیه قوماندانۍ اړوندې قطعې او پوستې وکتلې او د پوځي او امنیتي چارو د ښه والي په باب یې هغوي ته لازمې لارښوونې وکړې .

د فاریاب ولایت د اندخوي ...

چې د قرم قل، اندخوي او چارباغ د ولسوالیو د یو زیات شمېر پښتنو خلکو په ګډون جوړه شوې وه د قرآن مجید د څو مبارکو ایتونو په لوستلو سره پیل شوه وروسته د بلخ ولایت سرپرست محترم مولوي اختر محمد عثماني د جوزجان ولایت کفیل محترم حافظ کریم داد د حیرتانو او پایمي میکانیزه فرقې قوماندان محترم حافظ نور الله او د اندخوي د ولسوالۍ مرستیال محترم ملا عبدالله اخند په وار سره ویناوې وکړې.

د دین او هیواد د ښمنانو د توطئو او دسیسو د څرګندولو په ترڅ کې یې له حاضرینو نه وغوښتل چې د هیواد د ټولو قشرونو د یووالي او پیوستون په لاره کې هلې ځلې وکړي او ددښمنانو د ناولو او کرغېړنو فعالیتونو مخه ونیسي.

وروسته یو شمېر سپین ږیرو خبرې وکړې او په ټول هیواد کې د اسلامي نظام د ټینګښت او په هیواد کې یې د میشتو قومونو او ملیتونو تر منځ د ورورولۍ او یووالي د رامنځته کېدلو په لاره کې خپل تیاري وښوده .

د کابل په اړه کورنیو د ...

سره نه اتیا اړو کورنیو او معیوبینو ویشل شویدي. ددغو سوادوریش لرې به په راتلونکي کې هم دوام ولري .

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
د خلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

مخالفین محکوم دي

پدې وروستیو کې یو ځلې بیا شرمیدلو مخالفینو د اسلامي امارت په خلاف خپلو ناکامو سیاسي او پوځي هلو ځلو ته زور ورکړي چې د مخالفینو دغه ناکام تلاشونه پداسې مهال کې تر سره کیږي چې اسلامي امارت په ملي او بین المللي سطحه ښې بریاوې تر لاسه کړي .

همدا سبب دی چې د اسلامي امارت مخالفین او د هغوي ملاتړي یې له وارخطایي سره مخامخ کړي او ددې خطر د مخنیوي په غرض یې یو ځلې بیا د افغان مظلوم اولس د ځورولو او د هغوي د امنیت د ګډوډولو کوششونه پیل کړي .

خو دا ځلې هم د هغوي ناکامو هلو ځلو کومه نتیجه ورنکړه او په هره جبهه کې د بشپړې ماتې سره مخامخ شول .

سړي نه پوهیږي چې دا ځلې به مخالفین او د هغوي په شاتېونکي د اسلامي امارت په خلاف کومه منصوبه رویکاره کړي .

ځکه د هغوي بې شمېره معاهدو ایتلافونو ، شوراګانو، پراخ بنسټه حکومتونو خیالي پارلمانونه او پوځي تلاشونه خو کومه ګټه ورته نه ورسوله بلکه هره طرحه یې د لا ناکامي او رسوایي لامل وګرځیده خو که حقیقت ته نظر وشي نو د اسلامي امارت باغیانو فعلاً د خپل ملت او دخپل وطن په وړاندې کاملاً یوغیر انساني غیر اسلامي او غیر اخلاقي موقف پخال کې قرار لري او همدا لدې جهته چې د هغوي هر تلاش د وطن په ضد، د مسلمان ملت د دیني او دنیوي مصالحو په ضد په مجموع کې د افغان مجاهد ملت د ځوارلس کلن اسلامي جهاد د ارمانونو په ضد وي د هغوي د هر تلاش براخني هدف د پردیو خوشاله کول او د خپل مظلوم ولس ځورول کړول وي او بس.

همدا علت دی چې د هغوي هر پلان تر طرحه کېدو له مخه له ناکامي سره مخامخ وي نن هغوي د ملت لخوا په کامله توګه تجرید شوي ، ملت له هغوي نه کرکه لري او هغوي یې محکوم کړي بواځنی شی چې هغوي ته بقا ورکوي هغه خارجي لمسونه ده هغه هم د دې لپاره چه بهرنیان وکولي شي د هغوي په واسطه د خپلو شومو اهدافو لپاره د تطبیق زمینه برابره کړي. خو لکه چې د مخالفینو هر پلان چې له بشپړې ناکامي سره سامخ دی همداسې به د هغوي بهرني حامیین هم یوه ورځې خامخا د خپلو ناروا اعمالو د جزا سره مخامخ کیږي د افغانستان اسلامي امارت او د هغه فاتح پوځیان به د مخالفینو د ټولو توطیو، سازشونو د شنډولو د هیواد د ځمکني تمامیت د تحقق او په هغه کې د یوه شرعي نظام د پلي کېدو لپاره خپلې مشروعې هلې ځلې لا ګړندې ساتي او هیڅ بهرني او داخلي آشوب ګرانو ته به ددې موقع ورنکړي چې نور زمونږ مسلمان او دیندار هیواد وال د امن او استمداد له خوارہ نعمت څخه بې برخې کړي .

مونږ پدې باور یو چې نهایي موفقیت به د اسلامي امارت د ځواکونو په برخه وي ځکه چې د هغوي هر اقدام د ملت له بشپړ ملاتړ نه برخمن او هدف یې د خداي په ځمکه کې د خداي د مخلوق د هوسایي لپاره د خداي د حکومت نفاذ دی.

نن چې په هیواد کې د اسلامي احکامو د انفاذ تر څنګ په عمراني، اقتصادي، تعلیمي فرهنګي او دیپلوماتیکي ساحو کې کومې بریاوې تر لاسه شوي هغه ښېله ددې ښکارندویه دي چې زمونږ مسلمان ملت د خپل اسلامي امارت له نوښتګرانه دیني قیادت نه راضي او د هغه د ټولو شرعي اوامرو منلو ته د ځان اومال په قربانولو اماده دي.

که د شهیدانو په هیواد کې د اسلامي حکومت د پلي کولو په لار کې د دښمنانو لخوا ستونزې ډیرې وي او امکانات محدودنو لوړ عزم او راسخ ایمان به مو د همدې سپېڅلي هدف د تحقق په لار کې یواځني لامل وي او بس.

والذین جاهدوا فینا ...

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press